DAILY ارادهٔ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

شمارهٔ: ۲۷

10 October , 2007

اووم کال - دویمه دوره، اوه ویشتمه ګڼه، پر له پسې ګڼه ۱۰۵۱ د ۱۳۸۶ هـ ش د تلې ۱۸، د چهار شنبې ورځ، د ۱۴۲۸ هـ ق د رمضان المبارک ۲۸

PROPERTY ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

مور په هېواد کې ټولنیز عدالت او تلپاتې سوله غواړو

دغلو مشهور مشر تیمور لادرکه دی

غورځنګ - که څه هم له شپږو کلونو وروسته دلومړي ځل له پاره افغان دولت ۱۵ تنه بیلابیل مجرمین دتلې په پنځلسمه اعدام کړل خو ددغو اعدام شویو مجرمینو په ډله کې دتیمور نوم نه تر سترګو کېده. دځرخې پله د زندان قوماندان شاه میرخبري رسنیو ته ویلي چې تیمور داعدام په پلمه له دغه زندان څخه ایستل شوی دی. هغه ویلي چې نه پوهیږي ایا تیمور به اعدام شوی وي او که نه. ددولت د ریاست ویاند همایون حمیدزاده خبري رسنیو ته ویلي چې تیمور لادرکه شوی دی خو زیاته کړې یې ده چې د لادرکه کېدو مشخص وخت یې نه دی معلوم او په دې اړه پلټنې روانې دي.

نوموړي د ۱۳۸۴ کال د زمري په ۱۵ مه، هم د کابل مزار پر لویه لاره دشمالي سالنګ په چار مغزه سیمه کې له نیول کېدو وروسته وتښتېد. د کورنیو چارو وزارت هغه مهال دتیمور په دغه تېښته کې د ملي دفاع وزارت د یوه جنرال لاس وباله. نوموړی د دوه هم ځل له پاره دخیرخانې په نوې پروژه کې له دوو نورو کسانو سره نیول شوی و.

نوموړی په کابل کې د پاملرنې نړیوالې موسسې د یوې ایټالوي کارکوونکې کلیمنتینا کاتوني په تښتونه مجرم پېژندل شوی و.

د ولسمشر ویاند همایون حمید زاده:

نړیوال دې د افغان دولت په چارو باندې کار و نه لري

بینوا - افغان چارواکو وروسته له هغه چې پنځه لس بندیان په ګولېو باندې اعدام کړل، دا دی اوس هالند، ملګروملتونو، المان، کاناډا او ځینو نورو اروپایي هیوادونو په افغان دولت نیوکه وکړه او اعدام یې د نړیوالو بشري حقونو د پالیسۍ خلاف عمل وباله. هغوي وایي چې دا ۱۵ تنه باید اعدام شوی نه وای. دا په تېرو درو کلونو کې اول ځل دی چې په افغانستان کې څوک اعدام کېږي. ۴مخ

د طالبانو ویاند: د نهرین ولسوال او امنیه قوماندان مو وژلي

تړول افغان - طالب ویاند ذبیح الله مجاهد خبري رسنیو ته وئیلي دي چې تیره شپه لس بجې د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ ولسوال او امنیه قوماندان هغه مهال ووژل شول چې نوموړی ولسوال د ولسوالۍ د قوماندان په ګډون ددې ولسوالۍ مرکز ته نږدې په یوه کور کې میلمانه وو او تر میلمستیا وروسته د کوربه له کوره د وتلو په حال کې وو چې د طالبانو تربرید لاندې راغلل ۴مخ

نیکولای سارکوزی رییس جمهور فرانسه:

بر سختگیری خود در برابر ایران ادامه می دهیم

بی بی سی - رییس جمهور فرانسه در آستانهٔ دیدار با همتای روسی خود بر موضع سختگیرانهٔ این کشور در قبال بحران هستوی ایران تاکید نموده و جنبه هایی از سیاست دولت روسیه را نیز هدف انتقاد قرار داده است.

نیکولای سارکوزی، رییس جمهور فرانسه، در مصاحبه یی با نشریهٔ روسی روسییسکا گازتا، گفته است که کسی نباید در مورد عزم فرانسه در مورد مقابله با برنامهٔ هستوی ایران تردیدی به خود راه دهد.

مصاحبهٔ آقای سارکوزی در شمارهٔ روز سه شنبه، 9 اکتوبر، نشریهٔ روسی و ساعاتی قبل از آغاز سفر دو روزهٔ او به مسکو انتشار یافته است. ص۴

ملګري ملتونه: د پنځلسو افغانانو د اعدام په اړه اندیښمن دي

غورځنګ - په افغانستان کې د ملګروملتونو د ټولنې جګپوړي پلاوي د افغان دولت له خواد څرخي پله په سیمه کې د (۱۵) بندیانو د اعدام په اړه اندیښنه څرګنده کړې پلاوي ویلې دي دا د افغان دولت صلاحیت او حق دی چې په خپله خاوره کې قوانین نافذ کړي، خو باید بشري حقونو ته درناوی موجود وي.

د افغانستان لویې څارنوالي ویلي دغه (۱۵) بندیان چې د دریو محکمو له خوا د وژلو، تښتولو او وسله والو غلاوو په جرم محکوم شوي وو، دیکشنبې په ورځ د ولسمشر حامد کرزي له حکم وروسته په دار وځړول شول. دولسمشر حامد کرزي د واکمنۍ پرمهال دا لومړی ځل دی چې په مجرمینو د اعدام حد جاري کیږي.

د رپوټونو له مخې د څرخي پله نیږدې اته سوو بندیانو دخپلو ملګرو د اعدام له امله د نه خوړو په اعتصاب لاس پورې کړی دی. دوی ادعا کوي چې له (۱۵) څخه زیات بندیان په دار ځړول شوي دي.

حمله بالای پوستهٔ امنیتی سرخ کوتل بغلان

وخت - از اثر حمله مردان مسلح ناشناس بالای پوستهٔ امنیتی سرخ کوتل یک پولیس در ولسوالی دهنهٔ غوری ولایت بغلان دیشب مجروح گردید. این درحالی است که عبدالجمیل آمر امنیت وسر پرست قوماندانی امنیهٔ ولایت بغلان از موضوع اظهار بی اطلاعی میکند.

محمد اسحق کوکب رییس اطلاعات و فرهنگ ولایت بغلان ضمن تا یید این خبر به گزارشگر سایت وخت گفت :" احتمالاً این حمله از جانب قاچاقبران آثار باستانی صورت گرفته است، ص۴

در انفجاریک بم دستی پنج نفر زخمی شدند

وخت - پنج تن زمانی مجروح شدند یک بمب دستی دیروز درشهر تالقان منفجر شد. مل پاسوال ضیا الدین محمودی آمر امنیت قوماندانی امنیهٔ ولایت تخار طی تماس تیلفونی گفت :" ساعت ۳:۳۰ شب گذشته به اثر پرتاب بم دستی بالای یک منزل در منطقهٔ آهندرهٔ حوزهٔ پنجم امنیتی شهر تالقان توسط فرد نامعلومی مالک خانه با چهار مهمانش مجروح گردیدند."

آقای محمودی ازصحت یاب شدن دو مجروح این حادثه خبر داده، افزود که سه تن دیگر آنان تاکنون در شفاخانهٔ مرکزی تالقان بسترمی باشند، ص۴

که ایران افغان کډوال وباسي بدې پایلې به ولري

ورمه ورځ ولسي جرګې ته د دولت په چارو کې د پارلمان وزارت له خوا دیو مکتوب له لارې خبر ورکړل شو چې ایران غواړي په دې نږدې ورځو کې د سیستان او بلوچستان له ولایتونو څخه کابوشل زره افغان کډوال وباسي، مونږ په دې اړه چې ایران ولې په دې ډول عمل لاس پورې کوي او دغه راز افغان دولت دخپلو کډوالو د راتلو له پاره څه تیاری لري دموضوع په اړوند د نورو پوښتنو په اړه دیو شمېر نظرخاوندانو او عامو خلکو نظر ونو ته ستاسو پام را اړوو.





په مشرانو جرګه کې د پنجشیر دخلکو استازی محمد علم ایزدیار

په مشرانو جرګه کې دپنجشیر دخلکو استازی او د نړیوالو اړیکو دکمیسیون غړی ښاغلی محمد علم ایزدیار داسې وایي: افغانستان دټولو ګاونډیو په ځانګړې توګه د ایران په اړه نېک نظرلري او هغه خپل دوست هېواد ګڼي خو له بده مرغه چې ایران په خپل دغه عمل سره چې افغان کډوال په یو داسې حالت کې له خپل هېواد څخه وباسي چې دلته زمونږ هېواد په ډېرید اقتصادي حالت کې دی د افغانانو کرکه او نفرت د دوی ۴مخ

نوی مشر دې وټاکل شي اوله سره دې ټول ټاکنې وشي

دکابل پوهنتون استاد پوهاند ودیرصافی

داسې ګڼګو سې خپرې شوې دي چې ګواکې ناټو او امریکایي ځواکونه ددولت له مخالفینو سره په خبرو کې یوځه بریاووته رسېدلي داخبره به څومره دقیقه وي په دې اړه مې دکابل پوهنتون له ښاغلي استاد ودیرصافی سره مرکه کړېده چې ستاسو لوستونکو پام ورته را اړوم.

س- ښاغلی استاد؛ داسې ویل کېږي ناټو او امریکایي ځواکونه له طالبانو سره په خبرو کې یوځه بریاووته رسېدلي دي ستاسو په نظر به داخبره څومره دقیقه وي؟

ځ- مونږ خو داخبره درسنیو له لارې نه ده اورېدلې خو دامو دلري اونېږدې نه یالوستلي یا مواورېدلي چې مخکې له دې نه چې ولسمشر له طالبانو سره دخبرو اعلان وکړي امریکایانو له هغوی سره خبرې کړېدې خو کومه مثبته نتیجه یې لاسته نه ده راوړې نو دا ځلې هم داسې فکر کېږي چې ولسمشر له طالبانو سره دخبرو غږ اوچت کړی. شاید دا کارهم د امریکایانو او خارجیانو په مشوره شوی وي او هغوی ورته اجازه ورکړې وي چې ولسمشر د داسې خبرې و کړي. ۲ مخ

سر مقاله

د اعدام له ځای څخه زور واکانو له ځان سره بـــوت

درې لسیزې کېږي چې په هیواد کې د جبارانو، زور واکانو له خوا څخه د بې ګناه خلکو ډله ییزې وژنې په بیلابیلو بڼو روانې دي. کمونیستانو او روسانو داشرارو او د امپریالیزم د ګوډاګیانو په نوم زمونږ په لس ها وو زره مظلوم او بې ګناه هیوادوال په ډله ییز ډول په شهادت و رسول.

د تنظیمي جګړو پر مهال د تنظیمونو له خوا زمونږ زیات شمېر هیوادوال په ډله ییزه او غیر ډله ییزه توګه د پښتون، هزاره، تاجك او ... په نومونو په ډېره بې رحمی او فاشیستي ډول ووژل شول چې له هغې جملې څخه د افشارو، چنداولو او ... عام وژنې او د انسانانو په سر د پنځه اینچه میخونو ټکوهل د باعفته ښځو د تیونو پرېکول او ... یادولی شوچې دا رنګه وژنې کابو د هیواد په تاریخ کې ساری نه لري.

خو د بن له پریکړو څخه وروسته داسې سوچ کېده چې د ښاغلي کرزي اداره به د تل له پاره له ډله ییزو وژنو سره خدای پامانی و کړي او ملي جنایت کاران او ملي خاینین به محاکمه او په دار وځړوي. اوس چې د ښاغلي کرزي دولت د ملي مجرمینو له خوا د بحران په بحر کې لا هو شوی او د ډوبیدو په حالت کې دی د څو مظلومو انسانانو په وژلو او اعدا مولو سره له دې توفاني بحر څخه ساحل ته نشي را وتلی.

کومه جګړه چې لا تر اوسه په هېواد کې روانه ده چې پای یې لا هم معلوم نه دی زمونږ هېواد والوته یې زیاتې غمیزې راوړي دي، په میلیونو بې ګناه انسانان یې ووژل، په میلیونو معلول او مهاجر شول د دولت بنسټونه، فرهنګ، اقتصاد، معارف، ملي باور او... ټول له منځه لاړل قومي، سمتي، مذهبي، ژبني او ... تضادونه را منځ ته شول او د هیواد نړیوال دریځ تر پوښتنی لاندی را غی.

د څو بې ګناه کسانو وژل او هغه هم په دې سوم چې ټولنیز امنیت یې ګډوډ کړی و او په دې بهانه چې ټولنیز امنیت او ټیکاو وساتل شي نو پنځلس تنه یې په ډله ییزه توګه ووژل. اوس به چارواکي خلکوته دا ضمانت ورکړای شي چې وروسته به امنیت ټینګ شي، بیا به د یوقوم او یوې سیمې بې ګناه خلك په ډله ییز ډول ونه وژل شي؟

هغه مجرم چې زور لرونکو پورې تړاو درلود دولت ونشو کولی چې په هغه خپل د اعدام حکم تطبیق کړي او حتی د اعدام له ځای څخه زور واکانو له ځان سره بوت، څو مظلوم او بې ګناه کسان او تر زیاتې کچې د یوقوم خلك په ډله ییزه توګه ووژل شول او په ډله ییز ډول ښخ شول.

ولې د دوی مړي د ټولو ملي او نړیوالو معیارونو پر خلاف د دوی کورنیو ته ونه سپارل شول چې د کورنیو له خوا څخه په پلارنی هدیره کې خاورو ته سپارل شوي وای.

کوم قضایي سیستم چې اوس د دولت په چوکاټ کې شتون لري، په اداري فساد کې ډوب دی، د دوی پرېکړې په بشپړ ډول مشروعیت نه لري، اصلي مجرمان چې په زرهاوو انسانان یې وژلې دي، ملي شتمني یې تالان کړې او ... اوس په دولت او پارلمان کې ډېرې غټې دندې لري د هغوی امنیت او مصوونیت د همدې قضایي سیستم له خوا څخه تامینېږي، اصلاً باید د جرم د علتو جړې وویستل شي نه داچې مظلوم او بې ګناه انسانان په ډله ییزه توګه ووژل شي او هغه څوك چې په دې ټولنه کې د دېرش کلن ناورین، اوسنی جګړې او بدبختیو اساسي لاملونه دی هغوی اوس لوړې دندې، مصوونیت او امنیت لري. خو د دوي په نسبت مظلوم او بې ګناه انسانان په ډېر ویاړ سره په بې رحمانه ډول په اعدام محکومیږي.

دا وژنې او اعدامونه به د هغه توفان پیل وي چې د ملي جنایتکارانو د خیال مانۍ به له خاورو سره خاوري کړي او یو ورځ به د ولس له خوا څخه د اعدام حکم پرې تطبیق کېږي او په بشپړ ډول به ټولنیز عدالت را منځته کیږي.

زمونږ په کلیو او باندو کې هر ورځ بې ګناه انسانان په ځانګړې ډول د ډیورن په کرښه پراته ولسونه په بېرحمانه توګه په ډول ډول نو مونو وژل کېږي خو اوس د کابل په بد نامو وژن ځایونو کې هم د دوی وژل پیل کیږي.

مونږ له ښاغلي کرزي څخه غواړو چې هیڅکله بیا د دا رنګه انسانانو د اعدام حکم ورنه کړي او که چیرې اصلي مجرمان او ملي جنایت کاران محاکمه کړې ولس به له تا څخه ملاتړ وکړي.

نظری به قانون اساسی

قسمت هفتم

نویسنده: پوهندوی داکتر فاروق بشر

در جهان متمدن وپیشرفتهٔ امروزی صلاحیت تفسیرقانون برای یک سازمان خاص داده می شود که خوشبختانه قانون اساسی افغانستان نیزدر مادهٔ یکصدو پنجاه و هفتم، کمیسیون نظارت بر تطبیق قانون اساسی را پیشبینی کرده است. این قانون تقریباً شش ماه قبل از طرف شورای ملی تصویب ولی ازطرف رییس جمهور بنا بر ملحوظاتی که نزد خود شان معتبر بوده، توشیح نگردیده و برای برخی از تعدیلات در مواد آن به شورای ملی واپس اعاده شده که تا هنوز شورای ملی آن ملحوظات را تجدید نظر نکرده و این قانون را غرض توشیح رییس جمهور نه فرستاده است. هر گاه این قانون مراحل خودرا می پیمود و کمیسیون نظارت بر قانون اساسی ایجاد می شد،باید اعضای آن از بین علمای ورزیدهٔ حقوق که دارای تعلیمات عالی و تجربه کاری کافی بوده و یا بحیث استاد حقوق تدریس کرده باشند، از طرف مقام ریاست جمهوری تعیین میگردید. این کمیسیون از نظر قانون باید صلاحیت تفسیر قانون اساسی را داشته باشد و تفسیری راکه ارایه می کند، مورد تایید شورای ملی و تمام دوایر دولتی قرار گیرد. تصامیم این کمیسیون باید قابل قبول تمام ارگانهای دولتی قرار گیرد و سلیقه یی نباشد.

2- تفسیرقانون توسط قوهٔ قضاییه:

قانون اساسی افغانستان در فصل هفتم، بخش قضا در مادهٔ یکصدو بیست و یک برای قوهٔ قضاییه به این شرح صلاحیت تفسیر را داده است. " بررسی مطابقت قوانین، فرامین تقنینی، معاهدات بین المللی و میثاق های بین المللی با قانون اساسی و تفسیر آنها بر اساس تقاضای حکومت و یا محاکم مطابق به احکام قانون از صلاحیت ستره محکمه می باشد."

علمای حقوق هم عقیده دارند که قوهٔ قضاییه صلاحیت تفسیر قانون، فرامین تقنینی، معاهدات و میثاق های بین المللی را در مطابقت با قانون اساسی دارد. مادهٔ فوق الذکر قانون اساسی افغانستان موضوع تفسیرمواد قانون اساسی را بصورت واضح به قوه قضاییه تذکر نداده است. اگر از نظر استقرا این مادهٔ قانون اساسی را ارزیابی کنیم، کلمهٔ قوانین شامل تمام قوانین موضوعه میگردد. قانون اساسی هم یک مصوبهٔ موضوعه است که باید شامل این مادهٔ قانون باشد. چون تفسیر قوانین به اثر تقاضای حکومت یا قضا صورت می گیرد، هرگاه کدام ابهامی در طرزتطبیق یا تفسیر قانون اساسی پیدا می شود و بصورت واضح نه در قانون اساسی و نه هم در کدام متن قانون دیگری، صلاحیت تفسیر قانون اساسی به ارگان ذیصلاح قانونی تفویض شده، بنابر این باید قوهٔ قضاییه که از نظر قانون اساسی یک رکن مستقل دولت است و از نظر سیاسی یک سازمان بیطرف که اعضای آن از نظر قانون اساسی شامل هیچ حزبی شده نمی تواند صلاحیت تفسیرقانون اساسی را نیز داشته باشد.

اگر به این مادهٔ قانون اساسی به دقت نظر اندازیم، قانون اساسی برای ستره محکمه صلاحیت داده تا مطابقت قوانین، فرامین تقنینی، معاهدات بین المللی و میثاقهای بین المللی را باقانون اساسی بررسی کند و بر اساس تقاضای حکومت و یا محاکم، مطابق احکام قانون، تفسیر آن ازصلاحیت ستره محکمه می باشد. این موضوع به یک معادلهٔ الجبری می ماند. بطور مثال 2+2 = 4 است پس اگر 4 را تجزیه کنیم مساوی است به 2+2. وقتی بررسی مطابقت و تفسیر قوانین، فرامین تقنینی، معاهدات بین المللی و میثاقهای بین المللی با قانون اساسی از صلاحیت های ستره محکمه می باشد، طرف دیگر معادله نیزقابل تطبیق می باشد یعنی ستره محکمه صلاحیت مطابقت و تفسیرقوانین را با قانون اساسی دارد و می تواند قانون اساسی را نیز تفسیر کند.

ادامه دارد

نوی مشر دې وټاکل شي اوله سره ....

چې مونږ له طالبانو سره خبروته تیاریو یو شی چې هغه ټولوته معلوم دی هغه دبریتانوي ځواکونو خبرې وې چې یوکال مخکې د بریتانیې د ځواکونو مشرانو دقندهار دموسی کلا په ولسوالۍ کې له طالبانو سره وکړې اودې پایلې ته ورسېدل چې له نوموړې ولسوالۍ څخه به بریتانوي ځواکونه ووزي او د ولسوالۍ واك یې قومي مشرانو ته وسپاره او په خپل منځ کې یې اوربند اعلان کړ.

خو د امریکایانو له خبرونه خبرنه وو خو اوس داسې اوریدل کېږي او هم دانترنیټ له لارې یو یونیم مضمون خپرېږي چې امریکایانو هم دا یو کال یاڅه کمه زیاته موده راهیسې داکوششونه پیل کړي دي چې له طالبانو سره خبرې وکړي او یو جوړجاړي ته ورسېږي خو تراوسه یې کومه بریا ترلاسه کړې نه ده.

پ- که چیرې نړیواله ټولنه او افغان دولت له طالبانو سره په خبرو اترو کې همغږې ونه لري ستا سو په نظر به دا خبرې اترې صورت ومومي؟

ځ- نه، داسې هیڅ امکان نه لري ترڅو چې افغان دولت، ایتلافي ځواکونه نړیواله ټولنه او امریکایان په خپل منځ کې همغږې نه وي او په خپل منځ کې له مخکې نه په یوه اواز او یوه خوله یوه طرحه جوړه نه کړي چې له طالبانو سره په کوم ډول او طریقه خبرې وکړو نو په جدا جدا ډول یوه ډله یعنې نه ایتلافي ځواکونه او امریکایان او نه افغان دولت کولی شي چې له طالبانو سره د په خبرو کې کومې مثبتې نتیجې ته ورسېږي.

پ- ددې له پاره چې د دولت او طالبانو ترمنځ خبرې اترې کامیابه شي ستاسې په نظر باید کومې لارې چارې په کارواچول شي؟

ځ- که چیرې دولت غواړي له طالبانو سره خبرو اتروکې کامیابه شي نو باید افغان دولت لومړی د نړیوالې ټولنې، ایتلافي ځواکونو او امریکایانو سره خبره شریکه کړي فکرکوم چې دوی تریوه حده پورې داخبره عملي کړې هم ده ځکه چې کله کرزي صاحب له طالبانو سره دخبرو اترو غږ اوچت کړ ناټو او ایتلافي ځواکونو هم داخبره تایید کړه خو داخبره هم باید له یاده ونه باسو چې ولسمشر د تنها نړیوالې ټولنې سره همغږې ولرې بلکې په داخل دکابینې کې هم باید یوه همغږې موجوده وي ځکه چې د دولت په داخل کې هم ډېر مخالفین شته چې ددې خبرو اترو مخالفت کوي یعنې کرزی صاحب یوڅه وایي،اولومړی معاون یې بل څه او په پارلمان کې ځینې کسان شته چې ددې خبرو مخالفت کوي نو اول باید په خپل منځ کې سره همغږې شي او بیا وروسته د نړیوالې ټولنې او ایتلافي ځواکونو سره.

اوله بلې خوا کرزی صاحب باید یو قوي حکومت جوړ کړي او په خپل ملت باندې تسلط ولري بیا خبرې اترې یو نتیجه ورکولی شي او که نه تنها په یوازې ډول کرزی صاحب خبرې کوي او حتی دخپلې کابینې ټول غړي یې ورسره همکارنه وي نو په دې صورت کې شاید طالبان هم د دوی سره خبرې ونه کړي ځکه هغوی هم دا دلیل نیسي چې تنها دده خو هیڅ واك نشته نو مونږ دڅه له پاره ورسره خبرې وکړو.

پ- ښاغلی صافی صاحب؛ که احتمالاً د ناټو او امریکایي ځواکونه خبرې اترې له طالبانو سره یوې نتیجې ته ورسېږي په دې صورت کې به ولس په حکومت بې اعتماده نشي؟

ځ- هو که چیرې داسوله داسې وشي لکه دکوریا حکومتي چارواکي چې افغانستان ته راغلل او خپل برمته شوي کسان چې دطالبانوله خوا په غزني کې برمته شوي وو دوی په خپله دطالبانو له منګولو راخوشې کړل او له هغوی سره یو جوړ جاړي ته ورسېدل او د افغانستان حکومت ته هیڅ حیثیت پاتې نه شو نو اوس هم که چیرې بهرني ځواکونه له طالبانو سره یو جوړجاړي ته ورسېږي نو داموجوده حکومت بیا باید له قدرت څخه لاس په سر شي او استعفاوکړي نو دا همدا معنی ورکوي چې دکرزي په مشرۍ حکومت نور کارنشي ورکولی نو بیا باید نوی مشر وټاکل شي او له سره ټولټاکنې وشي او یوه نوې اداره منځ ته راشي.

پ- ښاغلی استاد؛ ایا ستا په نظر به مخالفین دې ته حاضرشي چې یوازې یا دافغان دولت او یا بهرنیانو سره خبروته کښېني؟

ځ- زه فکر کوم خو شاید دنړیوالې ټولنې سره په یوازې ډول وغږېږي ځکه دا اوسنی دولت هم نړیوالې ټولنې منځ ته راوړی خو دافغان دولت سره زه فکرنه کوم چې په یوازې ډول خبروته حاضر شي.

اوس هم که چیرې بهرني ځواکونه له طالبانو سره یو جوړجاړي ته ورسېږي نو داموجوده حکومت بیا باید له قدرت څخه لاس په سر شي او استعفاوکړي نو دا همدا معنی لري چې دکرزي په مشرۍ حکومت نور کارنشي ورکولی نو بیا باید نوی مشر وټاکل شي او له سره ټولټاکنې وشي او یوه نوې اداره منځ ته راشي.

دلیلة القدر شپه او دهغې فضایل

لیکنه : خادم احمد

دابایدووایو چې د روژې دمبارکې میاشتې، ټولې ورځې، شپې ، ساعتونه او شیبې د لوی خالق د انوارو له پلوشو او برکتونو څخه ډکې دي، خو له دې ټولو سره سره دقدر شپه په دې مبارکه میاشت کې، خپل ځانګړی ځای او مقام لري. په دې شپه د لوی رب نمانځنه او عبادت ډېر ثواب او لوی اجر لري. لکه څرنګه چې دغه شپه له زرو میاشتو څخه بهتره ده نو په دغه شپه کې عبادت هم د زرو شپو په کچه افضلیت لري. په دې شپه د دعا دقبلېدو فیصدي ډېره لوړه ده، پر دې اساس باید هڅه وکړو چې دروژې په مبارکه میاشت کې ، دنېکو او ښو کړنو د ترسره کولو ، بېوزلو ، یتیمانو اولویدلو انسانانو سره د مرستو او لاس نېونو ترڅنګ دلوی خدای (ج) په ذکر او عبادت ځانونه بوخت کړو او له خدای (ج) څخه وغواړو چې ددغې شپې نېکمرغي زمونږ په برخه کړي تر څو دلوی رب له لوریینو سره ددغې شپې په پیداکولو کې بریالي شو.

قدر دو ې معناوې لري ، لومړی دوخت د اندازه کولو او پرېکړې په معنا ، یعنې لوی خدای دهر شي اندازه مشخصوي او دهغه وخت ټاکي، دحکمونو په لېږلو سره دهر شي تقدیرټاکي. د قرآن کریم آیت دی : «په دغه شپه زموږ له لوري هر حکم دحکمت پر بنسټ صادرېږي» دالدخان سورت ۴ آیت

دقدر بله معنا عظمت او لویوالی دی یعنې لیلة القدر هغه شپه ده چې خدای لره یې ډېر لوی عظمت او فضلیت شته، دهغه دقدر او عظمت له پاره یوازې همدومره کافي ده چې لوی خدای (ج) قرآن کریم په همدغه شپه نازل کړی دی.

دقدر شپه د بېلابېلو روایتونو پرېنسټ د روژې د میاشتې د وروستۍ لسېزې په شپوکې ښودل شوې ده، له حضرت عایشې (رض) څخه روایت دی چې ګران پیغمبر (ص) وفرمایل : دلیلة القدر شپه د روژې په لسو اخرو او په تاقو شپو کې ولټوئ» صحیح البخاري.

له حضرت عایشې (رض) څخه په بل روایت کې راغلي دي چې رسول الله (ص) به د روژې په لسو وروستیو شپو کې دخدای ذکر او عبادت ته داسې خاصه پاملرنه او توجه کوله چې په نورو شپو ورځو کې یې نه کوله ، ګران پیغمبر ص په دې شپه کې مسلمانان ډېرو سجدو ، قیام ، ذکر او تسبیح ته ترغیبوي او فرمایي : کله چې د لیلة القدر شپه راځي نو جبرییل (ع) له ګڼ شمېر نورو ملائیکو سره ځمکې ته کښته کېږي او دهغو بنده ګانو له پاره دمغفرت او رحمت دعاوې کوي چې په ولاړه ناسته دلوی خدای (ج) په ذکر او عبادت باندې بوخت وي همدارنګه هغه وفرمایل : اې خلکو پر تاسې باندې هغه میاشت راغلې ده چې په هغه کې یوه شپه ده چې له زرو میاشتو نه زیات فضیلت لري. هغه څوک چې له دغې شپې نه بې برخې پاتې شي ،په حقیقت کې له ټولو خیریه چارو نه بې برخې پاتې شو او په دې شپه هغه کس له خیر او برکت څخه بې برخې پاتې کېږي چې په رښتیني ډول بې برخې وي (ابن ماجه)

دقدر په شپه مومن بنده چې دلوی خدای (ج) دربار ته هره دعا وکړي ،قبلېږي. دحضرت عایشې (رض) خبره ده: رسول الله (ص) ته مې وویل که ماته دلیلة القدر شپه معلومه شي ، نو په هغه شپه کې کومه دعا ولولم ؟ رسول (ص) وفرمایل دغه دعا ولوله «اللهم انک عفو کریم تحب العفو فاعف عني»

نو ددغې شپې فضایلو او برکتونو ته په پام سره هیله من یو لوی خدای مونږ دخپل دربار له مقربینو څخه وګرځوي او مونږ ته توفیق راکړي چې دروژې په مبارکه میاشت کې د فرایضو ، واجباتو ، سنتو ، مستحباتو په ترسره کولو سره، دغه له برکتونو او عظمتونو ډکه شپه پیدا کړو او د لوی رب دربار ته په دعا سره دخپلو ګناهونو دبښنې او دحاجتونو دپوره کېدو غوښتنه وکړو

ثواب ها و فواید روزه

در حقیقت امر ثواب روزه داری بسیار بزرگ می باشد، در اینجا بطور نمونه بعضی از آنها را که در کتاب های حدیث صحیح آمده به مطالعهٔ خواننده نقل می کنیم .

افزایش در پاداش

خداوند روزه داری بنده گان خود را بر خود انتخاب کرده و پاداش آنرا چندین مرتبه بیشتر افزایش میدهد. چنانچه در حدیث قدسی ذکر شده "به جز از روزه که آن برای من است و من او را بر آن پاداش میدهم. "روزه داشتن را برابری نیست و دعای روزه دار رد نمی شود.

رمضان یکی از ستون های اساسی اسلام است. قرآن در ماه رمضان نازل شده است. روزه گرفتن در ماه رمضان معادل با ده ماه روزه است از روی ثواب. هر که ماه رمضان را از روی ایمانداری و به امید دریافت پاداش روزه میگیرد، گناه های گذشته او بخشیده می شود.

شخصی روزه دار در دو لحظه لذت دارد:

وقتیکه روزهٔ خود را باز می کند و دیگر هنگامیکه با خداوند ملاقات می کند، به روزه داشتن خود شادمانی می ورزد. روزه در قیامت شفاعت روزه دار را می کند و می گوید "خداوندا، من او را از غذا و شهواتی بدنی باز داشتم در هنگام روز پس مرا اجازه بده تا شفاعت او را کنم. بوی دهن روزه دار به نزد خداوند بهتر است از بوی مشک.

روزه داشتن یک محافظت است

روزه داشتن یک محافظت است و یک قلعهٔ مستحکم است که انسان را از آتش مصئون نگاه میکند. هر که یک روز را به خاطر خشنودی خداوند روزه بگیرد خداوند روی او را به فاصلهٔ هفتاد سال از آتش دور میکند.

هر کسی یک روز را روزه بگیرد، و آن روز آخر زندهٔ گی اش باشد پس وی داخل بهشت خواهد شد. در بهشت دروازه یی است به نام رعیان، روزه داران از آن داخل میشوند و تنها ایشان و بعد از ایشان، آن دروازه قفل میشود و هیچ یک از آن داخل نمیشود.

در هر روزه افطاری خداوند مردمانی را که از آتش دوزخ رهایی می یابند انتخاب می کند. در روزه گرفتن خردمندی بسیار و فواید بی شمار است که وابسته به تقوا و پرهیزگاری می باشد چنانکه الله تعالی می فرماید " ... تا شما پرهیزگاران شوید. «البقره ۲:۱۸۳»" اگر شخصی برای کسب خشنودی الله «ج» و از ترس عذاب او از چیزهای حلال اجتناب می کند، پس پرهیز کردن از حرام برایش آسانتر می گردد. احساس گرسنگی در معده دیگر اعضای بدن را از گرسنگی و خواهشات باز می دارد. روزه داشتن سبب ورشکست شیطان، جلوگیر خواهشات و نگهدارندهٔ حواس می شود. روزه داشتن انسان را می آموزد تا چگونه از هوس و گناه دوری کند. انسان را کمک می کند تا بر طبیعت خود قادر گردد و خود را از عادت های ناپسندیده برهاند. روزه داشتن انسان را وقت شناس می سازد. روزه نمایانگر اتحاد امت اسلام می باشد.

چند حدیث در فضیلت ماه مبارک رمضان

رسول الله (ص) فرمود: خدای عزوجل می فرماید: هر عمل فرزند آدم برای اوست غیر از روزه که آن برای من است و من پاداش آنرا می دهم و روزه سپهری است (در مقابل دوزخ یا گناهان) و چون روز روزهٔ یکی از شما باشد ، باید ناسزا نگویید، و فریاد نکشید و با کسی در گیر نشوید، اگر کسی او را دشنام داد و یا با او جنگ کرد باید بگوید: من روزه دارم

و این لفظ بخاری است و در روایتی از او آمده که روزه دار طعام، آشامیدنی و شهوت خود را از جهت من ترک میکند، روزه از برای من است و من بدان پاداش میدهم و حسنه به ده برابرش.

و در روایتی از مسلم آمده که هر عمل فرزند آدم چند برابر می شود نیکی به ده برابرش تا هفتصد برابرش - الله تعا لی فرمود: مگر روزه که همانا از برای من است و من بدان پاداش میدهم - شهوت و طعام خود را به دستور من میگذارد.

ای مردم به شما ماه بزرگی رسید. ماه مبارک، ماهی که در آن شبی است بهتر از هزار ماه. ماهی که خداوند روزه اش را فرض و قیام شبش را نفل قرار داده است. کسی که به اجرای کاری نیکی تقرب جوید مانند آن است که فریضه را در ماه دیگری اداء نموده باشد. ماه صبر و ثواب صبر بهشت است، ماه دلجویی است. ماهی است که روزی مومن در آن فراوان می شود. کسی که در آن روزه داری را افطاری میدهد، برای او با عث آمرزش گناهان و آزادی از آتش دوزخ می شود و به اندازهٔ اجر روزه دار به وی داده می شود بدون اینکه از ثواب روزه دار کاسته شود. گفتیم ای رسول (ص) خدا ، همگی ما توان افطار روزه دار را نخواهیم داشت. فرمود: این ثواب را کسی هم حاصل می کند که یک چشیدنی از شیر یا یک خرما و یا یک نوشیدنی آب به روزه دار بدهد و کسی که روزه داری را سیر می نماید، خدا او را از حوض من می نوشاند که تشنه نمی شود تا به بهشت داخل شود.

رمضان ماهی است که اولش رحمت، میانه اش مغفرت و آخرش آزادی از آتش دوزخ است. کسی که بر زیر دستش در آن روز آسانی میکند، خدایش میامرزد و از آتش دوزخ آزادش می سازد.

برای شما ماه مبارک رمضان آمده است که روزه ء آن را خداوند (ج) بالای شما فرض گردانیده که درین ماه دروازه های رحمت باز شده و دروازه های دوزخ بند می گردد و شیاطین بسته می شوند و در این ماه شبی وجود دارد که از هزاران ماه بهتر است و کسی که از خیر و برکت آن محروم گردد، در حقیقت کاملاً محروم گردیده است.

شهر پرهیز

تقویم کرده مارا مهمان شهر پرهیز

نفس است بهر ایمان دربان شهر پرهیز

یک ماه جستجو کن ،صد سجده مو بمو کن

با عید می توان یافت پایان شهر پرهیز

خورشید غرق حیرت در نور معنویت

باشد که چون ندارد قرآن شهر پرهیز

با زینت منزه سجا ده بوس باشند

تسلیم حسن عشقند خوبان شهر پرهیز

با کوله بار ایمان ،همراه با غریبان

میباشد ای مسلمان شایان شهر پرهیز

روزنامه ملی اراده
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خود شان مربوط است

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (3) افغانی
سالانه: 1000 افغانی
شش ماهه: 600 افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه 200 دالر امریکایی
شش ماهه 120 دالر امریکایی

روزنامهٔ ملی اراده
مرکز نشراتی افغان
موسس و صاحب امتیاز:
حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: فضل الرحمن اوریا
موبایل :99 83 20 0798
معاون: خادم احمد
موبایل: 05 62 59 0700
مهتمم : سیرغی نستوه
ادیتور پشتو: سهراب دیدار
موبایل :0700222726

خبرنگاران :
سیدالرحمن سالار – 8507 440 077
علم جان پتمل – 0799412943
کمپوز:محمد جمیل احمد
دیزاین: محمدجمیل احمد و انجینیر محمدجمیل" امیری "
مسوول توزیع و بازار یابی : عبدالسمیع
موبایل : 84 43 24 0700
آدرس : دهمزنگ، عقب بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل ادرس : Daily.erada@yahoo.com
پست بکس : 304

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Fazal Rahman Oriya
Mobile: 0798208399
Collector: Sparghai Nastoh
Pashto Editor: Suhrab Dedar
Journalists: S.salar & Alam Jan patmal
Mobile: 077 44 08 507
Composer: Breshkay Hanifi
Designer: M.Jamil Ahmad & Eng,Moh Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: Daily.erada@yahoo.com
Post box: 304

که ایران افغان کډوال ....

نفرت د دوی په وړاندې را پاریږي او هغه محبت او د دوستۍ خیالونه چې د افغانانو په زړونو کې د ایران په اړه موجود وو له منځه یې وړلای شي
دی زیاتوي له یوې خوا سوړ ژمی را روان دی او له بلې خوا په هېواد کې خوراکي او دسونګ توکي ګران شوي او که په داسې وخت کې افغان کډوال د ایران له خوا راو ایستل شي نو دا به په ښکاره له افغانانو سره دښمني وي . په مشرانو جرګه کې دزابل دخلکو استازی او د شکایاتو د اوریدلو د کمیسیون رییس ډاکتر زلمی په دې اړه خپل نظر داسې څرګندوي
مونږ د ایران هغه عمل غندو چې د دغو غریبو کډوالو

په مشرانو جرګه کې د زابل د خلکو استازی ډاکتر زلمی

د ایستلو له پاره یې کړی، په داسې بدوشرایطو کې چې په یو هېواد کې، جګړه، بدمرغي، بې سوادي او غریبي وي او له بلې خوا ګاونډی درته وایي چې زما له کوره ووځه، زه ځای نشم درکولای داکار دګاونډ یتوب د اصولو پرخلاف دی
زمونږ پرکډوالو ایران ودان شوی هغوی هلته ډېر دتکلیف کارونه کوي او په داسې وخت کې چې ژمی را روان دی او له بلې خوا په هېواد کې دکار زمینه هم نه ده برابره شوې دا له مونږ سره ظلم دی اودخپل کمیسیون له خوا به دایران حکومت ته یو مکتوب لېږو او دا به ترې غواړو چې دغه اعلان بېرته واخلي او لږ ترلږه تر اوړي پورې هلته د اوسېدلو اجازه ورکړل شي
دی زیاتوي ددولت بهرنی سیاست ډېر کمزوری دی او په خپلو پالسیوکې پاتې را غلی ځکه دا د بهرنیو چارو وزارت دنده وه چې باید ایران ته یې خپل استازي استولي وای او په دې برخه کې یې له نړیوالې ټولنې څخه مرستې غوښتې وای او ایران یې په دې قانع کړی وای چې د کډوالو درا ایستلو پرېکړه بېرته واخلي

په ولسي جرګه کې د کوچیانو د خلکو استازی عارف کوچی

دغه راز په ولسي جرګه کې دکوچیانو استازی او دکډوالو دکمیسیون رییس حاجي محمد عارف کوچی په دې اړه وایي چې دوی ته د دولت په چاروکې د پارلمان وزارت له خوا ۲۳۰۶پر ۳۱۷۷ نمبرمکتوب له لارې خبر ورکړل شو چې ایران له سیستان او بلوچستان سیمو څخه په دې نږدې ورځو کې کابوشل زره افغان کډوال له خپل هېواد څخه وباسي، مونږ خبرېدو سره سم د کډوالو چارو او بهرنیو چارو مرستیالان او دغه راز د UNHCR استازي د ولسي جرګې عمومي غونډې ته راوبلل او دتعجب وړ داده چې دغه درې واړو ارګانونو په دې اړه خپلې بې خبري وښودله او ان په دې هم نه وو خبر چې ایران هغه کډوال را وباسي چې قانوني اسنادنه لري او که هغه کډوال را وباسي چې قانوني اسناد هم لري
دی زیاتوي : مونږ درې واړو ارګانونو ته یوه اونۍ وخت ورکړ ترڅو په دې اړه ولسي جرګې ته پوره معلومات ورکړي
ښاغلی عارف وایي: د ایران دا ډول عمل به د دواړو هېوادونو پردوستانه اړیکو بده اغېزه وکړي او دوی به کوښښ وکړي چې ایران په دې قانع کړي چې افغان کډوال په داسې وخت کې چې ژمی را روان دی راونه باسي ځکه افغان دولت دې ته هېڅ ډول تیاری نه لري چې دغه کډوالو ته د اوسېدلو ځایونه او خوراکي توکي برابر کړي

بر سختگیری خود در ....

این نخستین سفر نیکلا سارکوزی به روسیه در مقام رییس جمهور فرانسه است و به گفتهٔ ناظران، انتظار می رود دوسیهٔ هستوی ایران، یکی از محورهای اصلی مذاکرات او با ولادیمیر پوتین، رییس جمهور روسیه، را تشکیل دهد.
رییس جمهور فرانسه در مصاحبه با روسییسکا گازتا، با اشاره به بحران هستوی ایران گفته است "بین تسلیم و جنگ، یعنی دو واژه یی که در قاموس من جایی ندارند، موضع مسئوولانهٔ دیگری نیز وجود دارد."
به گفتهٔ آقای سارکوزی، این موضع مسئوولانه شامل "تشدید تحریم ها برای بر سر عقل آوردن ایران و همزمان و در صورت اینکه ایران احترام به تعهدات خود را برگزیند، باز گذاشتن راه گفتگوست."
رییس جمهور فرانسه در تاکید بر حمایت از فشار بیشتر برای توقف برنامهٔ هستوی ایران گفته است که "در مورد موضوعی با چنین وخامت تسلیم نخواهم شد."



نړیوال دې د افغان دولت ....

دغه کسان چې دکابل په زندان کې د یکشنبی په ورځ ناوخته ووېشتل شول اکثره یې محکوم شوی جنایت کاران وو. په دغو جنایت کارانوکې اکثره داسې کسان وو چې په وژنو باندې محکوم شوې وو. د نتیو نړیوالو غبرګونونو په ځواب کې د "حامد کرزی" ویا ند "همایون حمید زاده" نن سهار بینوا ته وویل چې دا کسان ځکه اعدام شول چې د نورو جنایت کارانو له پاره یو سبق وی او د افغانستان دولت د خپلو نافذه قوانینو په رڼا کې دا حق لري چې مجرمین اعدام کړي او نړیوال باید د افغان دولت په چارو باندې کار و نه لري.

دطالبانو ویاند د نهرین ولسوال....

نوموړی زیاته کړه چې په دې برید کې ولسوال او امنیه قوماندان د خپلو دوو تنو ساتونکو سره یو ځای ووژل شول. د ولسوال او امنیه قوماندان تر وژلو وروسته طالبان په خوندي توګه له سیمې ووتل او خپلو مرکزونو ته ستانه شول
مجاهد زیاته کړه چې شل ورځې مخکې هم د دې ولایت د مرکزي بغلان امنیه قوماندان سید نور الله اغا د خپل کشر ورور موسی اغا په ګډون د طالبانو له خوا د یوه ماین په چاودنه کې ووژل شول.

در انفجاریک بم دستی ....

بگفتهٔ داکتران موظف وضعیت صحی آنها رو به بهبود می باشد. تاکنون کسی به اتهام پرتاب بم بازداشت نشده است.
وقوع این حادثه درحالی صورت می گیرد که مسوولان قوماندانی امنیه آن ولایت از بازدشت اسامی ضرب الله ۲۸ ساله باشندهٔ ولسوالی فرخار وابسته به گروه طالبان به اتهام دو انفجاری که در طی دوماه اخیر صورت گرفته؛ خبرمیدهند . محمودی همچنان یاد آورشد این دو انفجار سه کشته و هفت زخمی بجاگذاشته بود

حمله بالای پوسته ....

چون ساحهٔ مذکور یک ساحه باستانی بوده و تا هنوز مورد کاووش باستان شناسان قرار نگرفته است ." گفته می شود یک آتشکدهٔ مربوط قرن ششم هجری درسرخ کوتل دهنه غوری بغلان وجودداشته که خود یکی از هژده ساحه باستانی این ولایت بشمارمی آید.
باید گفت درحال حاضر از این محل کتیبهٔ نیز در موزیم کابل موجود می باشد .

انجینیر فضل الرحمن

کارپوه او دنظر خاوند انجنیرفضل الرحمن په دې اړه داسې وایي
د ایران دغه عمل د ملګرو ملتونو دهغه پرېکړو څخه سرغړونه ده چې افغان کډوالوته باید ټاکلی او مناسب وخت ورکړل شي ترڅو خپل هېواد ته له ستونزو پرته راستانه شي او بله خبره داده چې ایران او افغانستان ګډ نژادي او اسلامي کلتور لري او دغه راز زمونږ ګاونډی هېواد دی نو د دغه درې اصولو په پام کې نیولو سره باید دوی زمونږ کډوال په د اسې وخت کې چې دلته سیاسي نظامي او اقتصادي وضع ښه نه ده راونه باسي
د کابل ښار یو اوسېدونکی تمیم چې څه موده وړاندې یې کورنۍ له ایران څخه راغلې داسې وایي:
د رسنیو له لارې مې وا ورېدل چې ایران غواړي افغان کډوال له خپل هېواد څخه راوباسي. زه او زما په څېرنور هغه افغانان چې د کډوالۍ ستونزې یې لیدلې دي په دې ډېر خپه کېږو چې کډوال په زور له خپل هېواد څخه راوباسي ښايي ایران به له افغان دولت سره ناوړه سیالي کوي او یا به دکوم بل سیاسي لامل له مخې غواړي پردولت فشار راوړي خو زمونږ غوښتنه د ایران له دولت څخه داده چې کډوال دې دخپلو غوښتنو څخه نه قرباني کوي. کډوال ډېر بې وزله خلك دي او ددې توان نه لري چې د دواړو خواوو ترفشارونو لاندې وکړېږي
دغه راز د کابل یو بل اوسېدونکی شیرین خپل نظر داسې څرګند کړ:
زه د ایران د دولت داکارغندم چې افغان کډوال په داسې وخت کې را وباسي چې هلته سوړ ژمی را روان دی او له بله پلوه دسونګ توکو بیې ورځ په ورځ لوړېږي هغوی کورونه نه لري زمونږ په هېواد کې امنیت نشته نو د ایران له دولت څخه زما غوښته داده چې افغاني کډوال دې ترهغې پورې په خپله خاوره کې پرېږدي ترڅو افغان حکومت وکړای شي په خپل هېواد کې دهغوی له پاره دسرپنا ځایونه او دکارلارې چارې برابرې کړي
ځکه اوس هغه کډوال چې ایران له خپلې خاورې څخه راوباسي په افغانستان کې نه کور لري اونه کارشته چې خپله نفقه پیدا کړي

حبیب الله

دشمالي یو اوسېدونکی حبیب الله هم دایران دغه عمل غندي اووایي:
زه له ټولو هغو افغانانو څخه چې په ایران کې د کډوالۍ شپې او ورځې تېروي هیله کوم ترڅو خپل وطن ته راشي ځکه زه په خپله هم ایران ته تللی یم خود ایران دخلکو کړنې له مونږ سره د انسانیت له چوکاټ څخه وتلې وې نوزما په نظر په خپل هېواد کې که ډوډۍ په نیمه ګېده هم وي خود پردي وطن په زیاتو شیانو نه ارزي ځکه هغه متل دی چې وایي: هرچاته خپل وطن کشمیردی
اوله خپل دولت څخه مې غوښتنه داده ترڅو ټولو افغانانو ته دکار زمینه برابره کړي او په هېواد کې امنیت راولي او خپل خلك پردیو هېوادونو ته اړ نه کړي چې دهر هېواد خلك پرې ملنډې ووهي

سالار



گوشه یی کوچکی از سرگرمی های « سالم ! » نوجوانان افغان